




## عبدالحفیظ « ملیار ـ ساپی »

د نشرنیته : 14 اکتوبر 2026 میلادی

# ګیله راغلې وه!

نن خو مې له چا ګیله راغلې وه
دوست مې يې له تا ګیله راغلې وه
ځانګه کې وه غلې شور يې نه لاره
سهار مې له بورا ګیله راغلې وه
نه يې کتل دیته چې کشرى ورور دى
ډير مې له لالا ګیله راغلې وه
ویخوړل غنم له جنت ووته
خدایږو له بابا ګیله راغلې وه
کله به فضا مو ګلورینه شي؟
ځکه له ښکلا ګیله راغلې وه
هر طرف ته فقر جنګ جګړې وینم
لا مې له دنیا ګیله راغلې وه
پنځه وخته دعا کوو قبلیږي نه
لا مې له ملا ګیله راغلې وه
نن خو سیرت نه صورت بازار لري
خلکو له ریا ګیله راغلې وه
په ډیرو وعدو يې سترى کړى يم
بیا له بیوفا ګیله راغلې وه



ورنغلم نږدې چې ، مات زړه وښيم
زما مې له حيا ګيله راغلې وه
شونډې د ملیار لا وچې پاتې شوې
ځکه له موسکا ګیله راغلې وه

***

عبدالحفیظ « ملیار»

بازګشت به صفحه اصلی -[www.said-afghani.org](www.said-afghani.org)

«محتوای این مضمون بیانگر نظر نویسندهٔ آن است و ارگان نشراتی مولانا سعید افغانی مسئولیتی در قبال آن ندارد.»